AFGHAN GERMAN ONLINE
http://www.afghan-german.com
http://www.afghan-german.de
افغان جرمن آنلاین

مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

نورمحمد لاهو
۲۰۲۶/۰۳/۱۵

# دیوالونه



دیوالونه!
نه مورک
او نه هم غوړونه لري
دا موږ یو
چې په خپل ترلي تنګ جهان کې
د خپل ځان انګازې اورو
یا کېدای شي دا جهان به یوازې
زموږه د خبرو آیینه وي
دا چې هرڅه له یو بله پټوو
هغه یې ببرته د برخلیک په نامه موږ ته غبرګوي
نو رازونه
په دیوال کې نه شته
رازونه
زموږ په وجود کې اوسي
او هستی
له یوه داسي مهین غوږه جوړه شوي
چې زموږه آن چوپتیاوې هم
روښانه
اورېدای شي
نو ځکه
دیوالونه چوپ دي
خو د هستی په پټو سیوریو کې
یو کوچنی مورک لګیا دی
د انسان د رازونو په زړو کاغذونو
ارام ارام
فکر ژووي


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولئ